حمید ۲۰۰۸/۱۱/۱۳م

# هغه جنایت چې اسلام او انسانیت پرې شر میږي

په ډېرې خوا شینۍ سره مې د افغا نې و یب پا ڼو نه دغه خبر تر لا سه کړ چې نن چها ر شنبه د کند هار ولا یت د نازو د لیسې پر یو شمیر ښځینه زده کو ونکو با ندې چې شمیر یې پنځلسو تنو ته ر سیده تیزاب شیندل شوي دي چې د ځینو رو غتیا یې حا لت ډېر نا زک ښو دل شوی دی.

زه ددغه د شر مه ډک عمل د اسلا م د سپیڅلي دین د اسا ساتو او ا فغا نې ننګ او غیرت سره په بشپړه تو ګه مغا یر بو لم او ددغه شر مناک عمل تر سره کوونکو ته وایم چې تا سو په ر ښتیا هم چې ځناور یا ست، ځکه انسان او هر هغه څوک چې په خپل سر کې لږ شا نتې مغز و لري ، هغه د غسې نا ولی عمل نه تر سره کوي. نو ای ځنا ور صفته انسا نه! لږ فکر وکړه چې تا د غه نا ولی عمل ولې تر سره کړ. ستا په سر کې که لږ شا نته عقل وای نو دا کار به دې نه و کړی. ایا ستا میر من،ستا مور ،ستا خور ،ستا لور او بل ښځینه خپلوانه ښځینه ډاکترانو، نر سا نو ته نه محتا جیږي ،ایا د غه نجونو نه چې تا پرې تیزاب و شیندل سبا به ستا په ښار،کلي او کو څه کې ډا کتر انې او نر سا نې نه وای او ستا د میر منې، لور ،خور او مور تداوي به یې نه کو لای، خو تا جا هل له دې کبله چې په سر کې دې ما غزه نه وو دوی دې له دې ټو لو شیا نو محروم کړل. اوس پوه شوم چې ته د خپلې میر منې، خور ،مور او لور له پاره د ښځینه ډا کټرانو او نر سا نو پر ځای نا رینه ډاکټرا نو او نر سا نو ته تر جیح ورکوي، نو ځکه دې د غه بې غیر ته عمل تر سره کړ.

د اسلام مبارک او سپیڅلي دین علم پر هر نا رینه او ښځینه با ندې فر ض کړی، خو ته د پاک خدای د کتاب نه بې خبره او جا هل د ا کا ر د ځان له پاره ثواب بو لې او پرې ویاړې. که بل چا لمسولی یې نو هغه ولې په خپل ملک کې دا کا ر نه کوي. زه په دې په بشپړه تو ګه با ور لر م هر چا چې ددې نا ولي عمل د تر سره کو لو له پاره لمسولی یې، د هغه زامن او لو ڼې په بهر نیو هیوا دو نو کې زده کړې کوي او په تا جا هل او لنډ غر با ندې خپل وطن ور ا نوي، کله در با ندې د خپل وطن ښو و نځي سو ځي، کله در با ند ې ښو ونکي وژني او کله هم تا په بل ډول نا وړو کا رو نو ته هڅوي او د بیزو په څیر یې در کې پرې ا چو لی او ګډوي دې او ته جا هل او له ځان او جها نه بې خبره ددوی امر ونه پر ځا ی کوي.

ای جا هل او ځنا ور صفته انسا نه! اسلا میت، افغا نیت او بشر یت ستا په دې ذلیل او نا وړه کار شر میږي او ستا نه کر که کوي. با ور وکړه کله مې چې دغه خو ا شینونکی خبر ولو ست نو ډېر مې طبیعت خر اب شو، سمد لا سه مې پاک قر ان ر اوا خیست او خدای ته په زا ریو شوم چې خد ایه پا که ددغه سپیڅلي کلام په بر کت ددغه ننګین عمل عا ملین په خپل قهر او غضب ا خته کړې.

امین یا رب ا لعا لمین


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de